**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**علمي معینیت**

**د علمي برنامو د پراختیا ریاست**

# د علمي برنامو د بیا کتنې کړنلاره (طرزالعمل)

**مرغومی ۱۳۹۶**



**ژباړونکی:** بشیراحمد بشرمل د بُست پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي آمر

**1. د نوو علمي برنامو د ایجاد او طی مراحل بهیر ........................................................3**

**2 د پروګرام د کلني څار د اړوند پالیسیو د تطبیق پړاوونه ......................................................4**

**2. د پروګرام د دوره يي بیا کتنې د پالیسی د تطبیق پړاوونو کړنلار...............................................7**

**4.د برنامې د تعلیق، ادغام او الغا پروسه ...............................................................12**

## 1. د نوو علمي برنامو د ایجاد او طی مراحل بهیر

د لوړو زده کړو په خصوصي او دولتي بنسټونو کې د لیسانس کچې د نوو علمي برنامو د ایجاد او طي مراحل په منظور لاندې پړاوونه ترسره کېږي.

### 1.1 د پوهنځي په کچه

د لیسانس په کچه د نوي علمي برنامي د ایجاد چارې د پوهنځي څخه شروع کېږي چې په هغه کې لاندې اقدامات د اجرا وړ دي.

1) د پوهنځي د رئیس په مشرۍ د کمیټې ایجاد، د کیفیت د تضمین او لوړاوي چارو آمر، د پوهنځي د نصاب کمیټې لږ تر لږه یو تن غړی، او د رشتې اړوند دوه تنه استادان چې د تدریس په برخه کې لږه تر لږه پنځه (۵) کلنه تجربه و لري د غړو په توګه؛
2) د نظر وړ برنامي د پالیسي ترتیب او تدوین ( د روزانه یا شبانه لیسانس تحصیلي کچې لپاره) چې لاندې مواردو په بر کې نسي
   - د برنامي د ایجاد اړتیا ( د برنامي او زده کړې د اړتیا تحلیل)؛
   - زده کړ ایزي موخې؛
   - تحصیلي نصاب
   - تشکیلاتي هرم( استادان او اداري کار کوونکي)؛
   - د برنامي د دوام او پایښت پلان؛
   - د برنامي د اړتیا وړ تجهیزاتو او امکاناتو (کتابتون، لابراتوار او تدریسي او مدیریتي) آسانتیاوو د شتون ډاډ؛
3) د مالي او اداري مرستیال له لوري د برنامي د اړتیا وړ تجهیزاتو په اړه تائیدی؛
4) د پوهنتو/لوړو زده کړو مؤسسي د نصاب کمیټې د استازي په حضور کې د پوهنځي د نصاب کمیټې تائید.
5) د پوهنځي د علمي شورا تائیدي
6) د نوي علمي برنامي د ایجاد په منظور د لوړو زده کړو وزارت له لوري د چمتو سوي فورم تکمیلول.

### 1.2 د لوړ زده کړو بنسټ په کچه

وروسته لدې چې پورته پړاوونه په هغه پوهنځي کې چې تمه ده نوي علمي برنامه پکښې ایجاد سي، پورته تکمیل سوي اسناد د پوهنځي څخه و پوهنتون ته لیږل کیږي  او لاندې پړاوونه ترسره کیږي.

1) د لوړو دزه کړو بنسټ د نصاب کمیټې تائید ( په هغه صورت کې د پوهنځي له لوري  چمتو سوي نصاب تخنیکي ستونزې ولري، د لوړو زده کړو بنسټ د نصاب کمیټه، اړوند وړاندیز د تحصیلي نصاب سره یو ځای مستردوي تر څو د اړتیا وړ اصلاحاتو سره یو ځای د دوهم ځل لپاره د نصاب پوهنتوني کمیټې ته راجع سي)؛
2) د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټې تائیدي؛
3) د لوړو زده کړو وزارت ته د نوي علمي برنامي د غوښتني د وړاندې کولو په منظور د وزارت له لوري د چمتو سوي فورم تکمیلول.


ژباړونکی: بشیراحمد بشرمل د بُست پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي آمر

### 1.3 د لوړو زده کړو وزارت په کچه:

د لوړو زده کړو وزارت د علمي برنامو د پراختیا ریاست، د لوړو زده کړو بنسټ وړاندیز په ډیټابیس کې د نوو علمي برنامو د وړاندیزونو په برخه کې درج او د اړتیا وړ ټولو اسنادو د شکلي شتون تر ارزوني وروسته، یاد وړاندیز د لوړو زده کړو وزارت په کچه په لاندې ډول طي مراحل کیږي.

1) د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکوني ریاست تائید ( په هغه صورت کې چې د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکوني ریاست ،د نظر وړ برنامې د وړاندیز په اساس د لوړو زده کړو بنسټ د کیفیت د لوړاوي پروسي ستونزې و ګوري او مستند یې کړي، یاد وړاندیز د ستونزو تر حل او لیږي کولو پورې په همدې پړاوي کې پاته کیږي
2) د نصاب د ملي کمیټې تائید:
3) د علمي برنامو د بیا کتنې د ملي کمیسیون تائیدي؛
4) د عالي شورا تائید
5) د لوړو زده کړو وزارت له لوري د چمتو سوي فورم تکمیلول ( پدې پړاو کې د نوي علمي برنامې د ایجاد فورم تکمیل سویدی او د نوي علمي برنامې دایجاد دوسیه د هغې د حمایوي اسنادو سره د لوړو زده کړو وزارت د علمي برنامو د پراختیا ریاست ته راجع او په ډیټابیس کې درج کیږي).

## 2 د پروګرام د کلني څار د اړوند پالیسیو د تطبیق پړاوونه

1- د پوهنځي رئیس د تحصیلي کال په پای (د دوهم سمستر په وروستیو) کې د علمي شورا د ناستې په ترڅ کې د دیپارتمنتونو آمرینو ته د پروګرام د کلني څار په اړه خپل تصمیم ابلاغوي.

2- د دیپارتمنتونو آمرین د (SWOT) په شمول د ارزوني او د تحلیل او تجزیې د ټولو اړوند معلوماتو: د محصلانو پرمختګ، لاسته راوړنو، د محصلانو او استادانو نظریاتو، د استادانو او کار کوونکو د اجرأتو او د ځانګړي عملیاتي پلان مسؤلیت پر غاړه لري

3- د دیپارتمنتونو آمرین د کلني څار په پروسه کې د لاسته راغلو پایلو اړوند عملیاتي پلانونه په یو واحد فورم کې تنظیموي او د دیپارتمنت د مجلس تر تائید وروسته د پوهنځي د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټې ته سپاري

4- د پوهنځي د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټه ټول معلومات را غونډ او د یو مشخص راپور په بڼه یې توحیدوي، د کیفیت د تضمین کمیټه د اړتیا په صورت کې کولای سی چې د دیپارتمنتونو د آمرینو څخه د لا زیاتو معلوماتو غوښته و کړي.

5- نوموړي راپور د پوهنځی د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټې تر ارزونی وروسته د تائید په موخه د پوهنځي علمي شورا ته وړاندې کیږي.

6- د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیته د اړوند پوهنځیو د کلني څار راپور تر لاسه او د کیفي مواردو تر څیړنې وروسته، د موافقې په صورت کې هغه تائیدوي.

7- د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیته دکلني څار د راپور لنډیز (خلاصه) د پوهنتون علمي شورا ته د تصویب په موخه وړاندې کوي

8- د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیته د کلني څار تصویب سوي راپور د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوني ر یاست ته لیږي.

9- د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیته، د اړتیاوو د تشخیص څخه وروسته د ښه والي لپاره، د علمي برنامو د اړتیاوو نوملړ د پوهنتون د کلني څار د راپور سره یو ځای علمي معاونیت ته سپاري



ژباړونکی: بشیراحمد بشرمل د بُست پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي آمر

10- دیپارتمنتونه مکلف دي چې د تیر کال د عملیاتي پلان د اجرا راپور د اوسني کال د راپور سره یو ځاي د پوهنځي د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټې ته ولیږي

**د کلني ځارد فورم نمونه**

| |
|---|
| **نیټه** |
| **دیپارتمنت** |
| **پوهنځی** |
| **د دیپارتمنت آمر** |
| 1. **د برنامې نوم** |
| **د برنامې ډول:** لیسانس/ماستري/دوکتورا |
| 2. **موثر او ګټور فعالیتونه** (هغه کړنې چې د تیرو کلونو په نسبت ګټوري او مؤثره ثابت سویدي) |
| 3. **د تیرکال د ترسره سوو فعالیتو د نیمګړتیاوو د رفعې او تکمیلولو/لاسته راغلو پرمختګونو د تائید په اړه معلومات**( وخت او موده، که تراوسه نه تکمیل سوي |
| 4. **د محصلانو پرمختګ** (د بریالیو محصلانو او اړوند فارغانو شمیر او د تیرو کلونو سره د هغوي پرتله) |
| 5. **ګمارنه** ( د تیر کال د فارغانو شمیر چې ګمارل سویدي) |
| 6. **د محصلانو نظرونه** ( د مثال په توګه د محصلانو په مټ بیلا بیلي سروې ګاني او ارزوني) |
| 7. **د فارغانو نظرونه** ( د مثال په توګه، د برنامې د موثریت په تړاو د فارغانو فیډبکونه) |
| 8. **د هغو اقداماتو په اړه معلومات چې د علمي برنامو په دوره یې بیا کتنه کې ذکر سویدي.** |
| 9. **زده کړ ایزې فزیکي سرچیني** ( د زده کړې د ښته سرچینو او نورو مشخصو اړتیاوو په اړه تبصره) |
| 10. **بشري سرچیني** ( د کار کوونکو او استادانو د شمیر او د هغوي د تحصیلي کچې په اړه د نظر څرګندول) |
| 11. **د روان تحصیلي کال ځخه نتیجه ګیري او د راتلونکي کال لپاره کاري پلان** |
| 12. **نور موارد** |

| | | |
|---|---|---|
| **د راپور ورکوونې نیټه** | **نیټه** | |
| **د پوهنځي د کمیټې تاییدي** | **نیټه** | |



**ژباړونکی:** بشیراحمد بشرمل د بُست پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي آمر

### د علمي برنامو د کلني څار د پړاونو مفهومي نقشه



## 2. د پروګرام د دوره يي بيا کتني د پالیسی د تطبیق پراړونو کړنلار

**1.** د پوهنتون علمي معاونيت، د راتلونکي کال لپاره د علمي برنامو د دوره يی بيا کتني د ترسره کولو زماني جدول (پلان) چمتو او د لوړو زده کړو وزارت ته یی د خبراوي په منظور رسماً لیږي

**2.**علمي برنامي په هرو پنځو کلونو کي يو ځل تر بيا کتني لاندی نيول کيږي د پوهنتون د هري يوي علمي برنامي په برخه کي د اړتيا او انديښني د شتون په صورت کي؛ علمي مرستيال کولاي سي چي د پنځو کلونو څخه په لږ موده کي د يوې برنامي (برنامو) دوره يی بيا کتنه د پوهنتون علمي شورا ته وړانديز کړي.

**3.** د ديپارتمنت آمر به د لومړني راپور د تکميلولو مسؤل وي (د ديپارتمنت آمر د دوره يی بيا کتني لپاره لومړني مطالب چمتو کوي)

**4.** علمي مرستيال، د دوره يی بيا کتني لپاره يوه کميته تشکيلوي چي د هغي غړي په لاندي ډول دي

**الف:** د پوهنځي دوه يا دري تنه استادان ( بغير د هغه پوهنځی له استادانو چي تمه ده دوره يی بيا کتنه یی ترسره سي) **د غړو په توګه.**

**ب:** د محصلانو له لوري استازي يو  يا له دې زيات.

**ج:** د امکان په صورت کي د اړوند رشتي يو تن مجرب استاد د لوړو زده کړو له بل بنسټ نه.

**5.** کميته: د دوره بيا کتني راپور او اسناد چي د محصلانو، استادانو او کارمندانو نظرونه په ځان کي رانغاړي تر بحث لاندي نيسي او د هغه د څرنګوالي په اړه خپل نظر څرګندوي

**6.کميته د لاندي اړخونو سره ليدنه کوي**

**الف:** کار کوونکي (اداري او استادان)

**ب:** فارغ التحصيلان

**د:** د علمي برنامي اړوند کارفرمايان/ګمارونکي (د امکان په صورت کي)

**7.** کميته د راپور اړوند اړيني برخي تکميلوي او خپلي لازمي کتني (ملاحظات) هم ور زياتوي

**8.** د پوهنځي رئيس د دوره يی بيا کتني چمتو سوي راپور ملاحظه کوي او خپلي لازمي تبصري هم ور زياتوي

**9.** د ديپارتمنت آمر د ور زمان بندي سره د علمياتي پلان دچمتو کولو سره سره، د راپور مسؤل هم دي

**10.**د پوهنځي د ځان ارزوني او دکيفيت د لوړاوي کميته راپور ګوري او وروستي اقدامات مشخصوي

**11.**د پوهنتون علمي شوار، ياد راپور تر کتني لاندي نيسي او پلان سوي اقدام د موافقي په صورت کي تائيدوي

**12.**پوهنتون، د تائيد سوو برنامو د د وره يی بياکتني د اجرا راپور په رسمي بڼه د علمي برنامو د پراختيا او د کيفيت د لوړاوي او عتبار ورکوني رياست ته ليږي

د (                    ) د لوړو زده کړو بنسټ د  علمي برنامو د وره یی بیا کتني فورم

دلوړوزده کړو وزارت/ بنسټ باید ددي فورم هره برخه تکمیل او وروسته د علمي برنامو د وره یی بیا کتني کمیته د هغه هره برخه تائید او یا هم د اړتیا په صورت کي خپل نظر څرګند کړي.

| |
|---|
| **د بیا کتني نیته:**<br>**د مخکیني بیا کتني نیته:** |
| **دیپارتمنت:** |
| **پوهنځی:** |
| **د دیپارتمنت آمر:** |
| **د کمیټي غړي:** |
| **1. د برنامي نوم**<br>**د برنامي کچه:** لیسانس/ماستري/ دوکتورا |
| **2. د تحصیلي بنسټ / پوهنځي د زده کړ ایزي برنامي او ستراتیژیک مأموریت ترمنځ همغږي**<br><br>**د هیئت نظرونه او وړاندیزونه:** |
| 3. **ښي تجربي** ( کوم ځانګړي فعالیت چي د ښو ټکو په توګه یاد سي)<br><br>**د هیئت نظر او وړ اندییزونه:** |
| 4. **د مخکینی دوره یی بیا کتني د اقداماتو په اړه تازه معلومات او تکمیل تائیدی/ لاسته راغلي پرمختګونه** ( ټول هغه اقدامات چي د زماني جدول پر بنسټ تکمیل سوي ندی، فهرست سي<br><br>**د هیئت نظر او وړ انیزونه:** |
| 5. **د کلني ځارد مخکیني ګزارش په اړه تازه معلومات او د تکمیلی تائید/لاسته راغلي پرمختګونه** ( د کلني ځار د ټولو اقداماتو نوملړ دي تر مخکیني دوره یی بیا کتني پوری ترتیب سی . په هغه صورت کي چي نه وي تکمیل سوي، د اجرا زماني جدول دي مل (اضافه سي)<br><br>**د هیئت نظرونه او وړ اندیزونه:** |



**ژباړونکی:** بشیراحمد بشرمل د بُست پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي آمر

| |
|---|
| |
| 6. **د محصلانو پرمختګ** ( د هغو محصلانو شمیر چې هر کال یې په بریالیتوب سره بشپړ کړیدی او فارغ التحصیلانو شمیر)<br><br>**د هیئت نظرونه او وړاندیزونه** |
| 7. **ګمارنه** ( د هر کال د فارغ د احصایی او نسب جدول چې د کار په بازار کې ګمارل سویدي)<br><br>**د هیئت نظورنه او وړاندیزنه** |
| 8. د **تحصیلي دوري د تجربو پر بنسټ د محصلانو نظرونه** ( د بیلګې په توګه د محصلانو سره غونډې، د محصلانو یا د محصلانو دکمیټې د پوښتنپاڼو پایلې<br><br>**د هیئت نظرونه او وړاندیزونه** |
| 9. **د تجربو پر بنسټ د فارغانو نظرونه** ( د بیلګه په دوګه، د برنامې د ارزښت یا د هغوې د اوسنی دندې ته د برنامې د اهمیت په اړه د فارغانو فیډ بک)<br><br>**د هیئت نظرونه او وړاندیزونه** |
| 10. **د استادنو نظرونه او تدریس د کیفیت ښه والی** ( د استادنو سره لیدنه، د استادانو د مسلکي پراختیا بهیر)<br><br>**د هیئت نظرونه او وړاندیزونه** |

| |
|---|
| 11. **د کمارونکو نظرونه** ( د بیلګي په توګه، د فارغ التحصیلانو د ګټورو ورتیاوو په اړه د کمارونکو نظرونه او کال لپاره د هغوي مناسب والی)<br><br>**د هیئت نظرونه او وړاندیزونه** |
| 12. **فزیکي او مجازي زده کړ ایزي سرچینی** ( د شته زده کړ ایزو سرچینو او ځانګړو اړتیاوو په اړه نظر<br><br>**د هیئت نظرونه او وړاندیزونه** |
| 13. **بشري سرچیني** ( د کارکوونکو او استادانو او د هغوي تحصیلی کچي په اړه د نظر څرګندول<br><br>**د هیئت نظرونه او وړاندیزونه** |
| **14. د هیئت نتیجه ګیري او د دیپارتمنتونو لپاره د اقداماتو لنډیز** |
| **15. تحصیلی بنسټ ته وړاندیزونه** |
| 16. **وړاندیزونو ته د دیپارتمنت ځواب** ( د بیلګي لپاره دا چي دیپارتمنت به څه ډول او څه وخت نظرونه او سپارښتني علمي کړي) |

| | | |
|---|---|---|
| **د کزارش نیتیه** | **نیتیه** | |
| **د پوهنځي د رئیس تایدي** | **نیتیه** | |
| **د پوهنتون دعلمي شورا تائدي** | **نیتیه** | |

### د علمي برنامو د دوره یی بیا کتني د پړاوونو مفهومي نقشه



## 4. د برنامي د تعليق، ادغام او الغا پروسه

په بيلا بيلا شرايطو کې د يادو پړاوونو د تطبيق مراحل په لاندې ډول دي .

د علمي برنامو دوره يې بيا کتنه په پوهنتونو نو کې د کيفيت په لوړاوي کې يو له مُهمو پروسو څخه ده، د ليسانس، ماستري او دوکتورا تر کچې ټولې فارغ ورکوونکې برنامې په بر کې نيسي.

1. د برنامې د تعليق بهير

1.1هر کله که کومه برنامه د پوهنتون د پريکړي پر بنسټ په تعليق (ځنډ) کې لوېږي نو لاندي اقدامات صورت مومي

- د پوهنځي رئيس او د ديپارتمنت آمر د برنامي د تعليق موضوع د پوهنتون د کيفيت د تضمين او لوړاوي کميټی سره د بحث په منظور شريکوي.
- د کيفيت د تضمين او لوړاوي کميته د نظر وړ برنامي د تعليق موضوع تحليل او ارزوي او د خپل کار پايله د اړوند پوهنځي سره شريکوي.
- د پوهنتون علمي مرستيال د کيفيت د تضمين او لوړواوي کميټي د ارزوني پر بنسټ د برنامي د تعليق اړتيا د اړوند پوهنتون علمي شورا ته د معقولو دلايلو په ذکر سره وړانديزوي. د تعليق دلايل په لنډه توګه؛ د تعليق د مودي او تعليق د عواملو د رفعي د مشخص پلان سره وړاندي کيږي.
- د پوهنتون علمي شورا د برنامي د تعليق وړانديز چې د پوهنتون د کيفيت د تضمين او لوړاو ي کميټي په استازيتوب د علمي مرستيال له لوري وړاندي سوي، تر څيړني لاندي نيسي او پدي برخه کې خپل تصميم نيسي.
- په هغه صورت کې چې د پوهنتون علمي شورا ، د کيفيت د تضمين او لوړاوي کميټي له لوري د برنامي د تعليق دلايل معقول و ګڼي، پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت ته د تعليق حالت ته د برنامي د اچولو په خاطر، د دلايلو په ذکر سره د لوړو زده کړو وزارت ته مشخص وړانديزو کوي.
- د لوړو زد کړو وزارت د خپل اړند اداری له لاري، د پوهنتون له لوري د برنامي د تعليق په اړه د وړانديز تر ارزوني وروسته پوهنتون او د لوړو زده کړو وزارت د آزموينو کميټی ته د ياد وړانديز د تائيد او يا رد خبر ورکوي.
- په هغه صورت کې چې د برنامي د تعليق وړانديز د وزارت له لوري د تائيد وړ و ګرځي، پدي حالت کې پوهنځی د راتلونکي تحصيلي کال لپاره محصلين نه جذبوي او لدي نه علاوه په تعليق کې هم لوېږي.
- يو برنامه کولای سي چې تر يوي تحصيلي دوري (څلورو کلونو) پوري د تعليق په حالت کې پاته سي. په هغه صورت کې چې د لومړي تحصيلي کال محصلين، د پوهنتون څخه فارغ سي او د تعليق عوامل بيا هم نه وي رفع سوي، پدي صورت کې د تعليق په حالت کې برنامه، د الغا د حکم تابع ده.
- په هغه صورت کې چې د برنامي د تعليق وړانديز د وزارت له لوري د تائيد وړ و ګرځي، پدي حالت کې پوهنځی د راتلونکي تحصيلي کال لپاره محصلين نه جذبوي او لدي نه علاوه په تعليق کې هم لوېږي.

- هر کله که یو برنامه و نه سي کولاي چي خپل محصلین د نا پیشبیني سوو دلایلو پر بنا تر فراغت پوري و رسوي، پدي صورت کي د چارو مسؤلین ( د پوهنځي او د دیپارتمنت آمر) مخ ته راغلي ستونزه د کورس د محصلینو سره د مناسب بدیل د موندلو په موخه شریکوي.

- د علمي کادر هغه غړی چي د یوي تعلیق سوي برنامي د کورسونو د تدریجي کمښت په سبب، بي برخلیکه پاته کیږي، ورته په مشابه برنامو کي درسي مکلفیت ورکول کیږي.

**2.1 هر کله که یو برنامه د لوړه زده کړو وزارت د ذیصلاح مراجعو له لوري په تعلیق کي لویږي، لاندي اقدامات صورت نیسي**

- د لوړو زده کړو وزارت ذیصلاح مراجع د مشخصي برنامي د تعلیق په اړه اړوند پوهنتون ته په رسمي بنه د خپل تصمیم څخه خبري. دا خبرتیا، د برنامي د تعلیق دلایل، د تعلیق د دوري دوام، د ستونزو د رفعي لارښود او په برنامه کي د شاملو محصلینو د تحصیل د پاتي کلونو په اړه کړنلاره په برکي نیسي.

- د پوهنتون د چارو مسؤلین، د وزارت تصمیم په علمي شورا کي مطرح او د تعلیق د مودي د را کمولو په خاطر تر بحث او خبرو وروسته تصمیم نیسي.

- د وزار ت تصمیم او د پوهنتون د علمي شورا فیصله په لږ زماني واټن کي پوهنځي ته د خبراوي په منظور رسول کیږي تر څو د هغه مطابق اجرآت وکړي او د راتلونکي کال لپاره محصلین جذب نسي

- پوهنځی د تعلیق مرحلي د رفعي لپاره تدابیري پلان چمتو او د پوهنتون علمي شورا ته یې وړاندي کوي.

- بعدي اجرات د ۱/۱ مادي په څیر صورت مومي.

**2 د برنامي د ادغام پروسه**

2.1هر کله که د پوهنتون د مصلحت په سبب دوي یا څو برنامي له یو بل سره مدغم کیږي، پدي صورت کي لاندي اقدامات صورت مومي

- د چارو مسؤلین (د پوهنځي رئیس او د دیپارتمنت آمر) د برنامي د ادغام اړتیا د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیتی سره شریکوي

- د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیته د برنامو د ادغام موضوع ارزوي؛ په هغه صورت کي چي پوهنتون د دوو یا له دوو څخه د زیاتو برنامو پر ادغام صلاح سي، د برنامو د ادغام په اړه خپل موافقه اړوند پوهنځی ته وړاندي کوي.

- د پوهنځي‌د رئیس له لوري سوي وړاندیز او د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیتي تائید د علمي مرستیال له لوري د پوهنتون علمي شورا ته لیږل کیږي

- په هغه صورت کي چي علمي مرستیال او د اړند پوهنځي رئیس د برنامو د ادغام د وړاندیز په اړه د پوهنتون د علمي شورا قناعت ترلاسه کړاي سي، پدي صورت کي د ادغام موضوع د وړاندیز په بڼه د وروستي تصمیم په منظور د لوړو زده کړو وزارت ته لیږل کیږي.

- په هغه صورت کي چي د پوهنتون له لوري د نظر وړ برنامو د ادغام وړاندیز د لوړو زده کړو وزارت له لوري تائید سي، بیا نو د ادغام پروسه د اجرا وړ کرځي.

- پوهنتون د ادغام پروسې څخه وروسته په خپل برخه کې د لوړو زده کړو وزارت د آزموينو رياست ته خبر ورکوي ترڅو د مدغم سوو برنامو د رشتې کود د کانکور آزموينې څخه ليرې کړي.

- پوهنځي، د مدغم سوو برنامو محصلين په يو نوي تحصيلي واحد کې تنظيم او تحصيلي اسناد يې په نوي حالت کې چمتو کوي.

**2.2 هر کله که د برنامو د ادغام د لوړوزده کړو وزارت له لوري ترسره کيږي، پدی صورت کې لاندې اجرات صورت مومي**

- هر کله چې د لوړو زده کړو وزارت د ذيصلاح مراجعو له لوري د پوهنتون د ارزونې په پايله کې، د دوو يا څو برنامو د ادغام اړتيا تشخيص کړي، په هغه صورت کې خپل پريکړه اړوند پوهنتون په رسمي بڼه ليږي.

- پدې برخه کې بعدي اجرات د تعليق پروسې د اجراتو په څېر ترسره کيږي.

**3 د برنامې د الغا پروسه**

— د برنامې الغا د برنامو د دوره يي بيا کتنې د پاليسي په سند کې د ذکر سوو مواردو پر بنسټ ترسره کيږي.

— د برنامې د الغا په اړه اقدام يا د پوهنتون او يا هم د لوړو زده کړو وزارت د ذيصلاح مراجعو د لزوم ديد پر بنسټ صورت مومې.

3.1 هر کله که يو برنامه د پوهنتون د پريکړې پر بنسټ لغوه کيږي، په هغه صورت کې لاندې اقدامات صورت مومي

- په هغه صورت کې چې د برنامې د دوام لپاره هيڅ لار نه وي پاته او يا د برنامې دوام په هيڅ ډول موثريت و نلري پدې صورت کې پوهنتون د يوې يا څو برنامو د الغا په برخه کې له قانوني لارو ګټه پورته کوي.

- اړوند پوهنځی د برنامې د الغا اړتيا د پوهنځي په علمي شورا کې تر بحث لاندې نيسي، په هغه صورت کې د پوهنځي علمي شورا د مشخصی برنامې (مو) الغا لازمه و ګڼي، وروسته ياده موضوع د مسلکي ارزونې په موخه د پوهنتون د کيفيت د تضمين او لوړاوي کميټې ته ليږي.

- په هغه صورت کې چې د کيفيت د تضمنين او لوړاوي کميټه تر ارزونې وروسته د برنامې الغا اړينه و بلل، خپل موافقه د دلايلو په ذکر سره پوهنځی ته وړاندې کوي.

- پوهنځي د خپلو دلايلو او د کيفيت د تضمين او لوړاوي کميټې د نظر په استناد، ياده موضوع د علمي معاونيت له لارې د پوهنتون علمي شورا ته وړاندې کوي.

- په هغه صورت کې چې د برنامې د الغا دلايل د پوهنتون د علمي شورا د قبول وړ و ګرځي هغه تائيدوي او د خپل وروستی تصميم مصوبه د بعدي اجراتو په غرض د لوړو زده کړو وزارت ته ليږي.

- د برنامې د الغا وروستی تصميم د وزارت د عالي شورا له لوري نيول کيږي.

- کله چې د برنامې الغا وروستی تصميم د لوړو زده کړو وزارت له لوری و پوهنتون ته ابلاغيږي، پدې صورت کې نو برنامه عملا لغوه شميرل کيږي.

### 3.2 هر کله که یو برنامه د پوهنتون د پریکړې پر بنسټ لغوه کیږي، په هغه صورت کې لاندې اقدامات صورت مومي

- هر کله چې د لوړو زده کړو وزارت ذیصلاح مراجع د اړوند پوهنتون د ارزونې په پایله کې، د کومې برنامې د الغا اړتیا تشخیص کړي په هغه صورت کې نو خپل لزومدید د دلایلو په ذکر سره پوهنتون ته رسما لیږي.
- پدې برخه کې بعدې اجرات د تعلیق پروسې د اجراتو په څیر ترسره کیږي.
- د پوهنتون علمي شورا، د برنامې د الغا وړاندیز چې د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټی په استازیتوب د علمی معاونیت له لوری وړاندې سویدی، د بحث لاندې نیسي او په اړه یې تصمیم نیسي.
- په هغه صورت کې چې د پوهنتون علمي شورا، د برنامې د الغا په اړه د پوهنتون د کیفیت دتضمین او لوړاوي کمیټی دلایل قبول کړ، هغه مهال نو پوهنتون د برنامې د الغا وړاندیز د دلایلو په ذکر سره د لوړو زده کړو وزارت ته لیږي.
- پوهنتون او اړوند پوهنځی د لغوه سوې برنامې د برحاله محصلینو د برخلیک په اړه د لازمو اجراتو په ترسره کولو مکلف دي.

## د برنامې د تعلیق پروسه

د لوړو زده کړو بنسټ د لزمدید پر اساس د برنامې تعلیق

د پوهنځی رئیس او د برنامې آمر د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټ سره موضوع شریکه کړي

د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټه یاده دا موضوع تحلیل او ارزوي

د علمي برنامو د بیا کتني پالیسي د بُست پوهنتون د کیفیت دتضمین او لوړاوي چارو آمریت له لوري پښتو ته ژباړل سوی.

د علمي شورا ترتائید، د برنامې تعلیق موضوع د لوړوزده کړو وزارت ذیصلاح مراجعو ته لیږل کیږي

په هغه صورت کي چي د تعلیق په اړه لوړوزده کړو بنسټ وراندیز د وزارت له لوري تائید سي، برنامه عملاً په تعلیق کي کیږي

د لوړو زده کړو وزارت د لزمدید پر اساس د برنامې تعلیق

د لوړوزده کړو وزارت د برنامې د تعلیق په اړه د لوړوزده کړو بنسټ د خپل تصمیم څخه خبرې

د بنسټ د چارو مسؤل، د لوړوزده کړو بنسټ د علمي شـورا سره د لوړوزده کړو وزارت تصمیم مطرح کوي

د برنام د تعلیق په اړه د وزارت تصمیم او د پوهنتون/مؤسسې د علمي شورا پریکړه اړوند پوهنځي ته رسول کیږي

لدي پړاو څخه وروسته، برنامه عملاً د تعلیق په حال کي لوېږ

پوهنځي د تعلیق مرحلي د لندولو او یا رفعي په موخه تدابیري پلان چمتو کوي

ضمیمه ۱ : د نوي علمي برنامي دایجاد فورم:

**د افغانستان اسلامی جمهوریت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**د اکاډمیکو چارد همغږۍ عمومي ریاست**

**د علمي برنامو د پراختیا ریاست**

**د نوو علمي برنامو د ایجاد فورم**

نیټه: (  /  /  )

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **لومړي برخه: د پوهنځي په کچه د نوي برنامي د ایجاد پړاوونه** | | | | |
| 1.1 | **د برنامي د ایجاد کمیټه** | نوم: | موقف: | امضاء: |
| | | نوم: | موقف: | امضاء: |
| | | نوم: | موقف: | امضاء: |
| | | نوم: | موقف: | امضاء: |
| | | نوم: | موقف: | امضاء: |
| 1-1.1 | **د پالیسي سند** | د پالیسي د سند په اړه د برنامي د ایجاد کمیټي نظر | | |
| 1-1.2 | **د مالي او اداري معاونیت تائید** | د برنامي د ایجاد او اړتیا وړ تجهیزاتو په اړه د اداري معاونیت نظر | | |
| 1-1.3 | **د پوهنځي د نصاب کمیټی تائید** | د تدوین/چمتو سوي نصاب په اړه د پوهنځی د نصاب کمیټي نظر | | |
| 1-1.4 | **د پوهنځي د علمي شورا تائید** | د برنامي د ایجاد په اړه د وړاندي سوو اسنادو پر بنسټ د پوهنځي د علمي شورا نظر | | |
| **دوهمه برخه: د لوړو زده کړو بنسټ په کچه د برنامي ایجاد پړاوونه** | | | | |
| 2.1 | **د لوړو زده کړو بنسټ د نصاب کمیټي تائید** | د پوهنځي د نصاب کمیټي له لوری د تدوین/چمتو سوي نصاب په اړه د لوړو زده کړو بنسټ د نصاب کمیټي نظر | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 2.2 | د لوړو زده کړو بنسټ د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټې تائدي | د دیپارټمنټونو په شمول د پوهنځي د ځان ارزوني د دوسیې تکمیل | د پوهنځي د ځان ارزوني د ګزارش تکمیل | د پوهنځي د کیفیت د لوړاوي او ادعتبار ورکوني بهیر د حمیایوي اسنادونو تکمیل |
| | | | | |
| | | د وراندیز تائید: | | |
| 2.3 | د لوړوزده کړو بنسټ د رهبري شورا تائیدي | د لوړو زده کړو بنسټ د رهبري شورا نظر | | |
| 2.4 | د لوړوزده کړو بنسټ د رهبري شورا تائیدي | د حاضر و غړو شمیر ( ) | د غیر حاضرو غړو شمیر ( ) | د لاسته راغلو رایو شمیر ( ) |
| | | د لوړو زده کړو بنسټ د علمي شورا نظر | | |
| | | د لوړو زده کړو بنسټ د علمي شورا د رئیس لاسلیک | | |
| | **د ریمه برخه: د لوړوزده کړو وزارت په کچه د نوي برنامې د ایجاد د تائید پړاوونه** | | | |
| 3.1 | **د لوړو دزه کړو وزارت د کیفیت د لوړاوي او اعتبارورکوني ریاست تائید** | د دیپارټمنټونو په شمول د پوهنځي د ځان ارزوني د دوسیې تکمیل | د پوهنځي د ځان ارزوني د ګزارش تکمیل | د پوهنځي د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکوني بهیر د حمایوي اسنادونو تکمیل |
| | | | | |
| | | **د وراندیز تائید** | | |
| 3.2 | **د نصاب د ملي کمیټې تائید** | **د لوړوزده کړو بنسټ د تائید سوي نصاب په اړه د نصاب د ملي کمیټې نظر** | | |
| 3.3 | **د علمي برنامو د بیا کتنې کمیسیون تائید** | **د لوړوزده کړو بنسټ د تائید سوي نصاب په اړه د نصاب د ملي کمیټې نظر** | | |
| 3.4 | **د لوړوزده کړو وزارت د عالي شورا تائید** | د حاضر و غړو شمیر ( ) | د غیر حاضرو غړو شمیر ( ) | د لاسته راغلو رایو شمیر ( ) |
| | | د لوړو زده کړو وزارت د عالي شورا تائید | | |
| | | د لوړو زده کړو د وزیر لاسلیک | | |



**ژباړونکی:** بشیراحمد بشرمل د بُست پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي آمر